# داتا حُضُور

## او د آدَب تعلٰیم

15-September-2022



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

په 15 ستمبر کال 2022ء د پاکستان په هفته واره اجتماع کښې کیدونکے بیان

# داتا حُضُور او د اَدَب تعلیم

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ۞--- د جاهلانو په جهالت باندې د صبر کولو انعام
- ۞--- اَدَب اللّٰه پاک ته د نزدې کیدو ذریعه ده
- ۞---آیا د شاهانو په مخکښې (څوک) داسې کښیني---؟
- ۞--- ښه صُحبت ډیر ضروري دے
- ۞--- د میلمستیا کولو یو اَهَم اَدَب

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

**نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف** (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د جنَّت عجیبه میوه

د مسلمانانو څلورم خلیفه، مولائے کائنات، حضرت عليُّ المُرتَضٰی شيرِ خدا کَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْکَرِیْم فرمائي: الله پاک په جنَّت کښې یوه وَنه پیدا کړې ده د کومې میوه چې د منړې نه غټه او د اَنار نه وړه، د کوَچو نه نرمه، د شاتو نه هم ډیره خوږه او د مشکو نه زیاته خوشبوداره ده- د دغې وَنې ښاخونه د لمدو لعلونو په شان، تنه د سرو زرو او پانړې د زَبَرجَدو دي- لَا یَاْکُلُ مِنْهَا اِلَّا مَنْ اَکْثَرَ مِنَ الصَّلَاۃِ عَلٰی مُحَمَّدٍ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې وَنې میوه به صرف هغوئي خوړلے شي څوک چې د الله پاک په حبیب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ډیر زیات دُرُودِ پاک لولي-[1]

وہ تو نہایت سَستا سودا بیچ رہے ہیں جَنَّت کا | ہم مُفلِس کیا مول چکائیں اپنا ہاتھ ہی خالی ہے[2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اَلنِّیَّۃُ الْحَسَنَۃُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّۃَ ښه نیت بنده جنت ته بوځي-[3]

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نیتونو سره د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ! د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به پوره بیان اورم. ❀ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به بااَدبه کښینم ❀ ښه په توجو به بیان اورم ❀ څه چې واورم د هغې به د یادولو، پخپله پرې د

---

[1]... الحاوی للفتاویٰ للسیوطی، جلد:2، صفحہ:48۔
[2]... حدائقِ بخشش، صفحہ:186۔
[3]... مسند فِردَوس، جلد:4، صفحہ:305، حدیث:6895۔

عمل کولو او نورو ته د رَسَولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د جاهلانو په جهالت باندې د صبر کولو انعام

تاجدارِ لاهور، شيخُ المَشَائِخ، حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په کَشفُ المَحجُوب شريف کښې د خپل ژوند يوه انمول او سبق حاصلوونکې واقعه ليکلې ده، فرمائي چې: يو ځل ما ته يوه سخته راپيښه شوه، د دې نه مخکښې هم ما ته داسې سخته راپيښه شوې وه، هغه وخت ما د حضرت بايزيد بسطامي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په مزار شريف حاضري اوکړه، د کوم په برکت چې زما سخته حل شوه، دا ځل چې راته کله سخته راپيښه شوه نو ما بيا د حضرت بايزيد بسطامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مزار شريف باندې حاضري اوکړه، 3 ورځې مې په مزار شريف حاضري اوکړه، هره ورځ به مې 3 ځله غسل او 30 ځله اودس کولو (يعني د پاکۍ او آدابو خيال به مې ساتلو) خو زما سخته حل نه شوه (قُدرت ته دا منظوره وه چې دا ځل د ولي الله په مزار باندې د پاتې کيدو سره نه بلکه د تجربې او مشاهدې په ذريعه سخته حل شي)-

فرمائي: چې سخته مې حل نه شوه نو ما خُراسان ته د تللو اراده اوکړه، خُراسان ته د تللو په وخت په لاره کښې يو کلے راغلے، هلته ما يوه خانقاه اوليدله-

په مخکښني دور کښې به اوليائے کرامو مدرسه يا د عبادت ځائے جوړولو، چرته چې به دوئي پاتې کيدل او د خپلو مريدانو تربيت به ئې کولو، کيدے شي چې هم دغه وجه وه چې داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د شپې تيرولو د پاره دغه خانقاه ته تشريف يوړلو خو دلته معامله اُلټا وه، په دغه خانقاه کښې اوسيدونکي عالمان او عبادت کوونکي نه وو بلکه جاهلان او بد اخلاقه وو، حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د عامو مُسافرو په شان زما سره سامان نه وو، خرابې شان جامې مې اغوستې وې، په لاس کښې مې کونتېۍ او د اوداسه د پاره لوښے وو، زما دا حالت چې هغوئي اوليدو نو په ما پسې ئې خندا اوکړه، شپه ډيره تيره شوې وه او هلته شپه تيرول ضروري وو، ځکه د ځائے نه لرلو باوجود زه په هغه خانقاه کښې پاتې شوم، هغوئي زه په لاندې منزل کښې پاتې کړم او پخپله بره خانې ته لاړل، چې د ډوډۍ وخت شو نو هغوئي د ميلمستيا هيڅ خيال اونه ساتو، ما له ئې وَچه کلکه ډوډۍ راکړه او پخپله ئې ښه خوراکونه کول او د دې سره سره ئې په ما پسې (د خندا کولو په

غرض) چغې هم وهلې، د خوراک نه پس هغوئي خربوزې اوخوړې او پوستکي ئې په ما باندې راويشتل، غرض چې څومره ترې کيدے شوه هغوئي زه تنگ کړم، زما سپکاوے ئې اوکړو، ما په صبر کولو سره دا هر څه زغمل۔

بس د هغه خلقو په دغه رَوَيّه باندې د صبر کولو په برکت الله پاک زما سخته حل کړه۔ (1)

| | |
|---|---|
| بنادو صبر و رِضا کا پیکر<br>رہے سدا نرم ہی طبیعت | بنوں خوش اَخلاق ایسا سرور<br>نبیِّ رَحمت شفیعِ اُمّت(2) |

## د جاهلانو په جهالت باندې صبر کول هم يو اَدَب دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د جاهلانو د جهالت نه په ډکو خبرو باندې صبر کول هم د ژوند په آدابو کښې يو اَدب دے، زمونږه د داسې خلقو سره ډيره واسطه راځي څوک چې د علم، اخلاقو او د ژوند د آدابو نه ډير لرې وي، خاص طور د نيکئ دعوت ورکوونکو مبلغينو د داسې ډيرو خلقو سره واسطه راځي، د حُضُور داتا گنج بخش علي هجويري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د سيرتِ پاک نه د سبق اخستو سره مونږ له پکار دي چې د داسې خلقو په خبرو، د هغوئي په حرکتونو او په غلطو اخلاقو باندې د صبر نه کار واخلو، د هغوئي د بدو جواب په ښه اخلاقو سره ورکړو، دا صبر هم يوه نيکي ده او ډير ځل د دې صبر په برکت سره غټې غټې سختې حل کيږي۔ الله پاک خپل محبوبِ کريم، رؤف رَّحيم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته فرمائي:

| | |
|---|---|
| خُذِ الۡعَفۡوَ وَاۡمُرۡ بِالۡعُرۡفِ وَاَعۡرِضۡ عَنِ الۡجٰهِلِيۡنَ ﴿۱۹۹﴾<br>(پاره:9،سورۀ اعراف:199) | ترجمۀ کنزُ الايمان: اے محبوبه! معاف کول اختيار کړئ او د نيکئ حُکم کوئ او د جاهلانو نه مخ واړوئ۔ |

په تفسير صراطُ الجنان کښې دي: په دې آيت مبارک کښې نبي کريم، رؤف رَّحيم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د 3 خبرو هدايت اوکړے شو: **(1)**: کوم مجرم چې د معذرت کولو سره ستاسو خوا له راشي، په هغه باندې د شفقت

---

1...کشف المحجوب،مترجم،صفحہ:100بتغير۔

2... وسائل بخشش، صفحہ:208۔

او مهربانۍ کولو سره هغه معاف کړئ **(2)**: خلقو ته د ښه او ګټه ور کار حکم کوئ **(3)**: که جاهلان او نا پوهه خلق تاسو ته رَدي بَدي اووائي نو د هغوئي سره جګړه مه کوئ بلکه د حِلم نه کار واخلئ- [1]

| | |
|---|---|
| تُو عَطا حِلم کی بھیک کر دے | میرے اَخلاق بھی ٹھیک کر دے |
| تجھ کو فاروق کا واسطہ ہے | یاخدا تجھ سے میری دُعا ہے |

الله پاک دې مونږ ته هم د اَدَب کولو توفیق راکړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت داتا ګنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لنډه پيژندګلو

❀ داتا حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په کمه او زیاته 400 هجرۍ کښې دنیا ته تشریف راوړلو ❀ د هغوئي نوم شریف: عَلِي او د والِد صاحب نوم ئې: عثمان دے ❀ داتا حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د افغانستان د علاقې غزني اوسیدونکے دے: د غزني یوه محله ده: هجویر- داتا حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په دغه محله کښې اوسیدو، په دې نسبت سره ورته هجویري اووئیلے شو ❀ هغوئي نَجِيْبُ الطَّرَفَيْن یعني حَسني، حُسيني سَیِّد دے ❀ د شروع نه ډیر نیک، عبادت کوونکے او د عِلمِ دین سره ډیر شوق لرونکے وو ❀ داتا حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د عِلمِ دِین زده کولو د پاره د عراق، شام، لبنان، آذر بائیجان، خُراسان او تُرکِستان وغیره ډیرو ملکونو سفر اوکړو، د هغه وخت د لویو لویو عالمانو او صوفیائے کرامو نه ئې عِلمِ دِین زده کړو ❀ تقریباً د 34 کالو په عمر مبارک کښې ئې د خپل پیر صاحب شیخ ابو الحسن خُتَّلي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په حکم باندې لاهور ته تشریف راوړو ❀ دلته ئې د نیکۍ دعوت عام کړو، د دینِ اِسلام پیغام ئې خور کړو، خلقو ته ئې د قرآن او سُنَّت تعلیم ورکړو، په خپلو اخلاقو، په کردار، کله په بیانونو کولو، کله په کراماتو ښکاره کولو ئې بے شمیره کافِران مسلمانان کړل، کوم چې د مخکښې نه مسلمانان وو، هغوئي ئې د سُنَّتو نمونې جوړې کړې، ډیر عالمان ئې جوړ کړل، ډیر خلق ئې په خپل تربیت کښې اوساتل او د وِلايَت اوچتې مرتبې ته ئې اورَسَوَل ❀ په کمه او زیاته 30 کاله موده کښې هغوئي په بَرِّ صغیر کښې یو انقلاب راوستو ❀ د یوخ قول مطابق هغوئي په 465 هجرۍ کښې د دې دنیا نه پرده اوفرمائیله ❀ د هغوئي مزار مبارک په لاهور کښې دے ❀ د هغوئي په نسبت

[1]...تفسیرِ صراط الجنان،پاره،9،سورۀ اعراف،تحت الآیة:199،جلد:3،صفحه:503۔

سره لاهور ته مرکزُ الآولیا او داتا نګر هم وئیلے شي- (1)

| | |
|---|---|
| کیا غرض دَر دَر پِھروں میں بھیک لینے کے لئے | ہے سلامت آستانہ آپ کا داتا پیا |
| جھولیاں بھر بھر کے لے جاتے ہیں منگتے رات دِن | ہو مِری اُمّید کا گلشن ہَرا داتا پیا(2) |

## د کَشفُ المَحجُوب پیژندګلو

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضور داتا ګنج بخش علي هجویري رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه ډیر ماهِره عالِم دین وو، هغوئي ډیر کتابونه هم لیکلي دي خو افسوس! اوس د هغوئي کتابونه نه میلاویږي، د هغوئي یو زبردست کتاب کَشفُ المَحجُوب اوس هم میلاویږي، د کَشفُ المَحجُوب اَصل په فارسئ ژبه کښې دے، د اُردو ترجمه ئې هم په بازار کښې میلاویږي ❀ کَشفُ المَحجُوب یو داسې زبردست کتاب دے چې ډیرو صوفیائے کرامو به دا کتاب باقاعده پخپله هم لوستلو او خپلو شاګردانو ته به ئې هم ښودلو ❀ د کَشف معنٰی ده: پرانستل او د مَحجُوب مطلب دے: په پرده کښې ایښودے شوے څیز- د ګناهونو په وجه باندې چې زړه کوم خیرے نیسي، صوفیائے کرام هغې ته حِجَاب وائي، داسې به د کَشفُ المَحجُوب مطلب جوړیږي: د زړه د پردو پرانستونکے کتاب ❀ خواجه نظامُ الدِّین اَولیا رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه به فرمائیل: چا ته چې کامِل پیر نه میلاویږي، هغوئي دې کَشفُ المَحجُوب اولولي، کامِل پیر به ورته میلاؤ شي- (3)

| | |
|---|---|
| کَشْفِ مَحْجُوب ہے فیضِ داتا حُضُور | کَشْفِ مَحْجُوب میں زِندگی کا سرور |
| اس کی عظمت میں بولے یہ خواجہ نِظام | ہے یہ رہبر سراپا، کرامت کا نُور |
| ہے یہ نسخۂ نایاب دِل کے لئے | جو پڑھے دِل لگا کر، سمجھ کر اسے |
| پیرِ کامِل ملے، بند رَستہ کھلے | گنج بخشی ہے اس کی یہ ظاہر ظہور |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]…تفصیل کے لئے دیکھئے: مکتبۃ المدینہ کا رسالہ "فیضانِ داتا علی ہجویری رَحمۃُ اللہِ عَلَیْہ "۔
[2]…وسائلِ بخشش، صفحہ:534۔
[3]…فیضانِ داتا علی ہجویری، صفحہ:58۔

## د کَشفُ المَحجُوب د یو باب خُلاصه

اے عاشقانِ رَسُول! د کَشفُ المَحجُوب شریف یو باب دے: کَشفِ حِجَاب: د آدابو بیان- په دې باب کښې حُضُور داتا گنج بخش علي هجویري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بنیادي طور د 3 څیزونو ذِکر فرمائیلے دے: **(1)**: اَدَب څه ته وئیلے شي؟ **(2)**: د اَدَب قِسمونه **(3)**: او د ژوند د تیرولو مختلف اَداب-

راځئ! د کَشفُ المَحجُوب شریف د دې باب نه د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د تعلیماتو او ځینې نصیحتونو اوریدو سَعَادت حاصلوو، الله پاک دې مونږ له د اولیائے کرامو سره د محبّت او د هغوئي په تعلیماتو باندې د عمل کولو توفیق را کړي-

اٰمِیْن بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (1): د اَدَب اهمیّت

حُضُور داتا گنج بخش علي هجویري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د ټولو دیني او د دنیا د کارونو حُسن اَدَب دے، د هر کَس د پاره د هغه د مقام مطابق بیل آداب دي، د اخلاقو، سُنّتو او عزّت حفاظت د اَدَب په ذریعه کیږي- [1] الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ<br>(پاره:28،سورۂ تحریم:6) | **ترجمۂ کنزُ الایمان**: اے ایمان والوو خپل ځانونه او خپل کور والا د هغه اور نه بچ کړئ د کوم خشاک چې انسانان او کانړي دي- |

صحابئ رسول، سُلطَانُ المُفَسِّرین، حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دې آیتِ کریمه په تفسیر کښې فرمائي: اَیْ فَقِّهُوْهُمْ وَاَدِّبُوْهُمْ یعني اے ایمان والوو! په تاسو باندې لازم دي چې پخپله خپل ځان هم او خپل کور والا هم د دوزخ د اور نه بچ کړئ! او دا به څنګه کیږي؟ تاسو څنګه خپل ځان او خپل کور والا د دې اور نه بچ کولے شئ؟ د دې طریقه دا ده چې پخپله هم د دین پوهه حاصله کړئ او خپل کور والوو ته هم دین اوښائیئ! پخپله هم اَدب زده کړئ او خپل کور والوو ته هم اَدب اوښائیئ---!! [2]

---

[1]...کشف المحجوب،مترجم،صفحہ:492ملتقطاً۔
[2]...تفسیر قشیری، پاره:28، سورۂ تحریم، تحت الآیة:6، جلد:3، صفحہ:334۔

د مسلمانانو د خوږې مور جانې، حضرت عائشه صديقه طيبه طاهره رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا نه روايت دے چې د الله پاک آخري نبي، مکي مدني، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د بچي په خپل پلار باندې حق دے چې هغه، هغه له ښه نوم کيږدي او ښه آداب ورته اوښائي۔ (1)

| | |
|---|---|
| جو ہے باادب وہ بڑا بانصیب اور | جو ہے بے ادب وہ نہایت بُرا ہے (2) |

## د اَدَب وړومبے ترتيب

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** اَدَب اصلي بندګي ده، حضرت موسٰی عَلَیۡہِ السَّلَام چې کله په کوهِ طور باندې حاضر شولو نو الله پاک د هغوئي سره وړومبے کلام (خبرې) دا اوکړې:

| | |
|---|---|
| اِنِّیۡۤ اَنَا رَبُّكَ فَاخۡلَعۡ نَعۡلَیۡكَ ۚ اِنَّكَ بِالۡوَادِ الۡمُقَدَّسِ طُوًی ﴿ؕ۱۲﴾ (پاره:16،سورۂ طٰهٰ:12) | **ترجمۂ کنزُ الايمان:** بے شکه زه ستا رَبّ يم نو ته خپل پيزار اوباسه بے شکه ته په پاک ځنګل طوٰیٰ کښې ئې۔ |

مُفَسِّرينِ کرام فرمائي: الله پاک حضرت موسٰی عَلَیۡہِ السَّلَام ته د نعلين شريف (يعني د پيزار مبارک) ويستلو حکم اوکړو، د دې يوه وجه دا وه چې د بادشاهانو په دربار کښې د پيزار ويستو سره حاضِريدل اَدَب دے او الله پاک خو اَحکَمُ الحاکِمِين دے، حضرت موسٰی عَلَیۡہِ السَّلَام د خالِقِ کائنات په حُضُور کښې حاضر دے، وادي هم مُقَدَّسه (پاکه) ده ځکه حُکم اوشو چې اے موسٰی عَلَیۡہِ السَّلَام د خپل رَبِّ کريم او د برکت والا وادئ په اَدَب کښې نعلين (پيزار) شريف اوباسئ!

الله اکبر! **اے عاشقانِ رَسُول!** د دې نه د اَدَب د اهميت اندازه اولګوئ! معلومه شوه چې اَدَب د بندګئ وړومبے ترتيب دے، د دې په ذريعه انسان اوچتې مرتبې ته رَسي۔ حضرت جلال بَصري رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: د ايمان تقاضا ده چې بنده په شريعت باندې عمل اوکړي، ځکه چې څوک په شريعت نه پوهيږي هغه (کامِل) ايمان والا نشي کيدے او شريعت اَدَب ښائي، ځکه چې څوک په اَدَب نه پوهيږي، نه د هغه ايمان (کامِل) دے، نه هغه په شريعت پوهيږي۔ (3) اعلٰی حضرت، امامِ اهلِسُنَّت شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: لَادِيۡنَ لِمَنۡ لَا اَدَبَ لَهٗ په چا کښې چې اَدَب نه وي، د هغه څه دين نشته۔ (4)

---

1…شُعب الايمان، باب فی حقوق الاولاد، جلد:6، صفحہ:402، حديث:8667ملتقطاً۔
2…وسائل بخشش، صفحہ:454۔
3…رساله قشيريه مترجم، ادب کا بيان، صفحہ:494۔
4…فتاویٰ رضويه، جلد:28، صفحہ:158۔

## اَدَب الله پاک ته د نزدې کیدو ذریعه ده

شیخ یُوسُف بن حُسَین رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: د اَدَب په برکت سره د عِلم پوهه حاصلیږي، د عِلم په برکت سره عَمَل صحیح کیږي، چې عَمَل صحیح شي نو حکمت میلاویږي، چې حکمت میلاؤ شي نو زُهد (یعني د دنیا نه بے رغبتي) میلاویږي، د زُهد په برکت سره د آخرت شوق پیدا کیږي او د کوم خوش قسمته چې د آخرت شوق نصیب شي، هغه ته الله پاک خپل دولت عطا کوي۔ (1)

الله! الله! **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** غور اوکړئ! اَدَب څومره اعلٰی څیز دے، معلومه شوه چې د چا سره اَدَب دے، هغه ډیر خوش قسمته دے چې د عِلم صحیح پوهه د هغه نصیب کیږي څوک چې اَدَب والا دے، عَمَل د هغه صحیح وي، څوک چې اَدَب والا دے، حکمت هم هغوئي ته میلاویږي څوک چې اَدب والا دے او د الله پاک نزدې والے هم د هغه نصیب کیږي د چا چې د اَدَب دولت نصیب شي او د کوم بد نصیبه سره چې اَدَب نه وي، هغه ډیر محرومه دے، که هغه په زرګونو کتابونه هم اولولي نو بیا هم د صحیح عِلم د پوهې نه محرومه پاتې کیږي، که ټول ژوند په عبادت کښې تیر کړي، بیا هم د عَمَل د صحیح والي نه محرومه پاتې کیږي، نه هغه ته حکمت میلاویږي او نه هغه ته د الله پاک د نزدې والي دروازې برسیره کیږي۔

| | |
|---|---|
| محفوظ سدا رکھنا شہا! بے ادبوں سے | اور مجھ سے بھی سر زد نہ کبھی بے ادبی ہو (2) |

الله پاک دې زمونږ د اَدَب دولت نصیب کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## (2): اَدَب څه ته وئیلے شي---؟

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اَدَب څه ته وئیلے شي؟ راځئ! چې د دې د زده کولو د پاره هم د داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه په خِدمت کښې حاضِري اوکړو، حُضُور داتا ګنج بخش علي هجویري رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: عام طور اَدِیب (یعني اَدَب والا) هغه ته وئیلے شي: څوک چې د لُغت ماهر وي (لکه څنګه چې دلته عموماً شاعر ته اَدِیب وئیلے شي) خو د اولیائے کرامو په نز د اَدَب معنٰی ده: اَلْوَقُوفُ مَعَ الْمُسْتَحْسِنَاتِ په ښه والي باندې په مضبوطئ

---

[1]...عوارف المعارف، صفحہ:455۔
[2]...وسائل بخشش، صفحہ:315۔

سره قائم پاتې کيدل- [1] بس هغه کَس په چا کښې چې نيک عادتونه راجمع شي، هغه اَدِيب (يعني اَدَب والا) دے-

## د اَدَب قِسمونه

داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د اَدَب 3 قِسمونه دي:

## (1): د بندګۍ آداب

وړومبے قِسم: اَلْاَدَبُ مَعَ الله يعني د الله پاک اَدَب- دا د ټولو نه وړومبے او ضروري اَدَب دے ځکه چې مونږ په دې دنيا کښې څه هم يو، د ټولو نه اوّل مونږ بنده ګان يو، څوک چې ډاکټر دے، هغه ډاکټر وروستو دے، وړومبے د الله پاک بنده دے، څوک چې عالِم دے، هغه عالِم وروستو دے وړومبے بنده دے، څوک چې انجنيئر دے، هغه انجنيئر وروستو دے، وړومبے بنده دے، غرض چې مونږ څوک هم يو، څه هم يو، د ټولو نه **مخکښې** مونږه بنده ګان يو، بيا څه نور څه يو- ځکه به د ټولو نه **مخکښې** مونږ ته **د بندګۍ** د آدابو خيال ساتل وي-

## د بندګۍ يو څو آداب

**د بندګۍ** آداب ډير زيات دي، امام شعراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د آدَابُ العُبُودِيَّت په نوم يو پوره کتاب ليکلے دے، په هغې کښې ئې د بندګۍ ډير زيات آداب بيان کړي دي، مثلاً د بندګۍ يو اَدَب دا دے چې بنده هميشه خپله تَوَجو د الله پاک طرفته ته اوساتي، چې نعمت ميلاؤ شي (مثلاً مال او دولت عطا شي، اولاد ميلاؤ شي، خوشحالئ نصيب شي، چې هر قسمه نعمت وي) دے د هغه نعمت پاتې نه شي، د نعمت په وجه باندې په غفلت کښې نه پريوځي بلکه په هر حال کښې د الله پاک حقونه ادا کړي، هميشه د الله پاک طالِب شي چې د ټولو نعمتونو خزانې د رَبِّ کائنات په اختيار کښې دي- بنده هميشه د الله پاک په رضا باندې رضا شي ❀ د هغه هره فيصله د زړه نه قبوله کړي ❀ څه چې ورته عطا کړے شوي وي، په هغې خوشحاله شي ❀ چې غم ورته ميلاؤ شي نو ګيله اونکړي ❀ چې خوشحالي ئې نصيب شي سرکشه نه شي ❀ بَس د الله پاک د رضا طلب ګار شي ❀ په دنيا کښې هيڅ يو څيز خپل ملکيت اونه ګڼري ❀ دا پوخ سوچ خپل کړي چې هر څه د الله پاک دي، هغه حقيقي مالِک دے، زما سره چې څه هم دي، د الله پاک دي، هغه په خپل رحمت ما ته عطا کړي دي ❀ خپل عبادتونه او نيک کارونه هميشه ناقِصه اوګڼري ❀ د ځان خوښئ هيڅکله هم ښکار نه شي-

---

[1]...کشف المحجوب،مترجم،صفحه:504 ـ

حُضُور داتا گنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د بندګۍ په آدابو کښې دي چې په جَلوَت او خَلوَت (يعني د خلقو په مخکښې هم او ځانله هم، په هر حال کښې) د الله پاک د بے حُرمتۍ (مثلاً د ګناه او نافرمانۍ) نه ځان بچ ساتي۔ (1)

## الله پاک مو ويني

داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: خلقو له پکار دي چې د بندګۍ طريقه د حضرت زُليخې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا نه زده کړي، د توبې کولو او د ايمان راوړلو نه مخکښې چې کله زُليخا بے لارې وه، کله چې هغې ځانله حضرت يوسُف عَلَيْهِ السَّلَام ته د ګناه دعوت ورکړو، هغه وخت په کمره کښې يوه مُجَسَّمه (بُت) پرته وه، زُليخې به هغه خپل خدائے منلو، نو زُليخې په هغه مجسمې (بُت) باندې کپړه واچوله (يعني د بُت مخ ئې پټ کړو) او اوئې وئيل چې: زه د خپل مَعبُود مخ پټووم د پاره د دې چې هغه ما د نافرمانۍ په حالت کښې اونه ويني۔ (2)

غور اوکړئ! هغې بے جانه مُجَسَّمې ليدل نه شو کولے، اوريدل ئې نه شو کولے خو زُليخې هغه خپل خدائے منلو، ځکه ئې د هغې اَدَب اوکړو۔ زمونږ خدائے خو رښتونے خدائے دے، هغه ويني هم، اوري هم بلکه د زړونو په حال هم ښه پوهيږي، الله پاک د کائنات ذره، ذره ويني، بيا به دا څومره بے ادبي وي چې الله پاک ورته ګوري او بنده په ګناه کښې اخته دے۔۔؟؟ ځکه بنده له پکار دي چې د الله پاک په مخکښې هيڅکله هم ګناه اونکړي او داسې هيڅ يو ځائے نشته چرته چې الله پاک مونږ نه ويني۔

جوں ہی گناہ کرنے لگوں ، تیرے خوف سے
فوراً اُٹھوں میں تھر تھرا یا ربِ مصطفیٰ

تیری خَشیَّت اور ترے ڈر سے، خوف سے
ہر دم ہو دِل یہ کانپتا یا ربِ مصطفیٰ (3)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## هميشه به ئې په دوؤ زنګونانو ناسته کوله

داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د الله پاک په آدابو کښې دا هم دي چې د الله پاک په حُضُور کښې داسې پاتې کيږو، لکه څنګه چې د شاهانو په مخکښې پاتې کيږو۔ د حضرت حارِث مُحاسبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په باره کښې

---

[1]...کشف المحجوب،مترجم،صفحہ:493بتغیر۔
[2]...کشف المحجوب،مترجم،صفحہ:494بتغیر۔
[3]...وسائل بخشش، صفحہ:132۔

راځي چې هغوئي 40 کاله داسې تیر کړل چې په شپه او ورځ کښې ئې کله هم د ډډې وهلو سره ملا نیغه نه کړله، همیشه به په دوؤ زنګونانو (یعني څنګه چې په لمونځ کښې په اَلتَّحِیَّات کښې کښیني، داسې) به کښیناستلو، خلقو ته ئې اوفرمائیل: زه د رَبّ په حُضُور کښې داسې کښینم، لکه څنګه چې غلامان کښیني، د دې نه علاوه په بل یو حالت کښې په کښیناستلو کښې ما له شرم راځي- [1]

## آیا د شاهانو په مخکښې (څوک) داسې کښیني---؟

حضرت سِرِّي سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د ډیرې اوچتې مرتبې والا ولئ کامِل تیر شوے دے، هغوئي یوه شپه ناست وو او درودِ پاک ئې لوستلو، په هغه وخت هغوئي ښپې اوغزولې- څنګه چې ئې ښپې اوغزولې، غیبي آواز پرې اوشو: آیا د بادشاهانو په مخکښې (څوک) داسې کښیني؟ بَس د دې اوریدو سره حضرت سِرِّي سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فوراً ښپې راغونډې کړې- شیخ جنید بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: د هغې نه پس حضرت سِرِّي سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه 60 کاله ژوندے وو، هغوئي په ورځ یا شپه کښې چرې هم ښپې اونه غزولې- [2]

سُبْحٰنَ الله! اے عاشقانِ رَسُول! دا د الله پاک نیک بنده ګان دي، اوګورئ! دوئي د الله پاک د اَدَب څومره په کمال سره خیال ساتي او یو مونږه یو، الله پاک موویني، په دې پوهیږو او بیا هم د ګناه نه نه منع کیږو، چې مونږه خلق په ګناه اونه ویني، د دې خبرې خو مونږ خیال ساتو خو الله پاک مو ویني، د دې خبرې هیڅ خیال نه ساتو- کاش! چې مونږ د بندګئ آداب زده کړو، مونږه ډیر څه یو، سوداګر هم، افسر هم، ډاکټر هم، انجنیئر هم، ډیر څه یو خو کاش! چې مونږ په صحیح معنو کښې **د الله پاک بنده ګان** هم جوړ شو-

| | |
|---|---|
| گناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی! | مجھے نیک بندہ بنا یاالٰہی! |
| خطاؤں کو میری مٹا یاالٰہی! | مجھے نیک خَصلت بنا یاالٰہی! |

## (2): د خپل ځان هم اَدَب کوئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼرو! د اَدَب دویم قِسم دے: اَدَبُ النَّفس یعني د خپل ځان اَدَب کول-
دا څومره ځانګړې خبره ده، تر ننه پورې مو دا خبره اوریدلې ده چې مونږ له د نورو خلقو اَدَب کول پکار دي خو داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: د نورو اَدَب خو خامخا کول دي، د دې سره سره د خپل ځان هم اَدَب کول

[1]...کشف المحجوب،مترجم،صفحہ:493بتغیر۔
[2]...عوارف المعارف، صفحہ:456۔

پـکـار دي- ولې به نه کوؤ چې زمونږه دا بدن، زمونږه دا ځان، زمونږه هر څه په حقيقت کښې زمونږه نه دي بلکه د الله پاک دي، رَبِّ کائنات فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَ اَمْوَالَهُمْ (پاره: 11، سورة توبه: 111) | **ترجمهٔ کنزُ الايمان**: بے شکه الله د مسلمانانو نه د هغوئي مال او ځان اخستے دے- |

مشهور مفسرِ قرآن، حکيم الأُمَّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې آيت لاندې فرمائي: چې مؤمِن له پـکـار دي چې دا اوګنړي چې زه او زما مال په رَبِّ کريم خرڅ کړے شوي دي، زما يو څيز هم خپل نه دے، خپل هر اندام، هر وخت او هر مال د الله پاک د خوښې مطابق استعمال کړي، ګني بيا به خيانت کوونکے وي- [1]

الله اکبر! **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه چې زمونږه ځان په اَصل کښې زمونږه نه دے، د رَبِّ کريم راکړے شوے امانت دے، ځکه په مونږه باندې لازم دي چې په دې امانت کښې خيانت اونکړو بلکه د دې امانت اَدَب اوکړو-

## د خپلې بے ادبئ مثالونه

❁ ځان رسوائيئ ته وړاندې کول ❁ خپل قدر نه کول ❁ چې خلق راپسې خندا اوکړي، داسې کار کول ❁ د کومې په ليدو چې راپسې خلق اوخاندي، داسې حُليه خپلول ❁ په بدن باندې اُلټا پلټا ټيټو (نخښې) جوړول ❁ خپله حُليه ورانول دا د ټولو نه غټ د خپلې بے ادبئ مثالونه دي- حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د خپل ځان په اَدَب کښې دا دي چې انسان هميشه رښتيا وائي (چې دروغ بد کار دے، ځکه د دروغو وئيلو سره خپله ژبه ګنده کول د ځان بے ادبي ده)- نور فرمائي: انسان له پـکـار دي چې کـم خوراک کوي چې دغه شان بيتُ الخلا (Bath Room) ته زيات تلل نه وي، دغه شان د پردې ځيونو ته نه ګوري چې په دې کښې بے شرمي ده- [2] امام غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: په انسان باندې د خپل ذات په آدابو کښې دي چې د جامو د صفائيئ خيال اوساتي، د مسواک کولو عادت جوړ کړي، داسې جامې نه اچوي چې خلق ورته سپک نظر اوکړي، په تګ راتګ

---

[1]...تفسير نعيمی، جلد:11، صفحہ:78بتغير۔
[2]...کشف المحجوب،مترجم،صفحہ:495بتغير۔

کښې اخوا دېخوا نه ګوري، د خبرو اترو کولو په وخت بيا بيا لاړې نه توکي او په کوڅو کښې زيات نه کښيني- [1]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** دا زمونږه د پاک دينِ اسلام کمال دے چې په دې کښې مونږ ته زمونږ د ذات آداب هم ښودلے شوي دي، مونږ له پکار دي چې مونږ دا آداب خپل کړو، د نورو هم اَدَب اوکړو او د دې سره سره د خپل ذات هم اَدَب اوکړو- د نفسياتو جديد پوهان وائي چې: څوک چې د خپل ځان اَدَب نه کوي، هغه د نورو هم اَدَب نشي کولے، خلق زمونږه ظاهري حُليې ته د کتلو سره زمونږ د شخصيت پته لګوي، کوم خلق چې د خپل صحت، د صفائيئ وغيره خيال نه ساتي، هغوئي ډير غير ذمه واره او سست ګڼړلے شي-

ځکه مونږ له پکار دي چې د خپل ذات قدر اوکړو، داسې حُليه يا داسې انداز خپل نه کړو چې خلق زمونږ نه کرَکه اوکړي بلکه صفا سُترا پاتې کيږو، د خپل صحت خيال اوساتو- الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق را کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (3): د ژوند تيرولو مختلف آداب

داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د اَدَب دريم قِسم دا دے چې د خلقو سره د ميلاويدو، په ناسته پاسته کښې د هغوئي د آدابو خيال اوساتلے شي-

په دې ځائے کښې داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ژوند تيرولو مختلف آداب بيان کړي دي، راځئ! په هغې کښې يو څو اورو:

### ښه صحبت ډير ضروري دے

د خلقو سره په ناسته پاسته او د تعلق ساتلو په باره کښې د ټولو نه اهمه خبره دا ده چې انسان هميشه نيک صحبت اختيار کړي، د بد صحبت نه هر وخت ځان بچ اوساتي- داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د نفس عادت دے چې د خپلو ملګرو نه راحت بياموي، چې د کوم قِسم خلقو سره کښيني، د هغوئي عادتونه خپلوي، ځکه مشائخِ (يعني اوليائے کرام) د ټولو نه مخکښې د دوستئ حقونو ته د پام کولو او مُريدانو ته د دې ترغيب ورکوي، تر دې پورې چې د مشائخو په نز د دوستئ آداب زده کول او په هغې باندې عمل کول د فرضو درجه لري- [2]

---

[1]...آدابِ دين، صفحہ:47-48بتغير۔

[2]...کشف المحجوب،مترجم،صفحہ:499بتغير۔

په حديثِ پاک کښې دي: الرَّجُلُ عَلٰى دِيْنِ خَلِيْلِهٖ، فَلْيَنْظُرْ اَحَدُكُمْ مَنْ يُّخَالِلُ انسان د خپل دوست په دين باندې وي، ځکه په تاسو کښې هر يو له پکار دي چې هغه اوګوري چې د چا سره دوستي کوي- (1)

## ځان ته دُعا ولې نه کوې---؟؟

په کَشفُ المَحجُوب کښې حُضُور داتا ګنج بخش رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي چې: يو ګس د طواف په وخت صرف دا دُعا کوله: اَللّٰهُمَّ اَصْلِحْ اِخْوَانِی اے الله پاکه! زما دوستان نيک جوړ کړې- چا ترې پوښتنه اوکړه چې په دې ځائے کښې ته ځان ته دُعا ولې نه کوې؟ صرف دوستانو ته دُعا ولې کوې؟ هغه ګس ډير د کمال جواب ورکړو، اوئې وئيل: زه به بيرته واپس د خپلو دوستانو خوا له ځم، که چرې هغوئي نيکان شول نو زه به هم نيک جوړ شوم او که چرې هغوئي خراب شول نو د هغوئي خرابي به ما ته هم را رسي، ځکه زه د خپلو دوستانو د پاره دعا کووم- (2)

بنادے مجھے نیک نیکوں کا صدقہ
گناہوں سے ہردم بچا یاالٰہی!
مِرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو
کر اِخلاص ایسا عطا یاالٰہی! (3)

## د دوستۍ او ورورولئ يو بنيادي اَدَب

د دوستۍ او ورورولئ يو بنيادي اَدَب دا دے چې انسان صرف او صرف د ديني فائدې خيال اوساتي- هم دغسې حضرت مالِک بن دينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د کوم ګَس ملګرتيا چې تاسو ته ديني فائده اونه رسوي، د هغه د صحبت نه ځان ساتئ چې تاسو محفوظ پاتې شئ!

داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: د دې نصيحت مطلب دا دے چې ستاسو صحبت به يا خو د ځان نه د اوچت او ښه انسان سره وي يا د ځان نه د کمتر سره- که د ځان نه د اوچت او ښه (انسان) سره ملګرتيا کوئ نو د دې نه به تاسو ته د دين او دنيا فائده ميلاويږي او که چرې د ځان نه د کمتر سره کښينئ نو ستاسو نه به هغه ته د دين فائده رسي، هغه به ستاسو نه دين زده کوي، ښه خبرې به درنه زده کوي- (4)

---

[1] ...ترمذی، کتاب الزہد، صفحہ:566، حدیث:2378۔
[2] ...کشف المحجوب،مترجم،صفحہ:499بتغیر۔
[3] ...وسائل بخشش، صفحہ:105۔
[4] ...کشف المحجوب،مترجم،صفحہ:497بتغیر۔

## د دوستئ او ورورولئ نور آداب

مسلمانانو له پکار دي چې د خپلو مسلمانانو ورونړو سره په ښکلي انداز او مهربانئ سره وړاندې راشي، الله پاک په قرآنِ مجيد کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ (پاره:26،سورۀ حجرات:10) | **ترجمۀ كنزُ الايمان**: مسلمان د مسلمان ورور دے نو د خپلو دوو ورونړو په مينځ کښې روغه اوکړئ- |

معلومه شوه چې ټول مسلمانان په خپل مينځ کښې ورونړه ورونړه دي، ټولو له پکار دي چې د يو بل سره په نرمئ او مهربانئ سره وړاندې راشي، څوک هم د بل زړه آزار نه کړي ❁ مسلمانانو ته سلام اوکړي ❁ په مجلس کښې د هغوئي د پاره ځائے فراخه کړي ❁ هر يو په ښه نوم سره را اوبلي- په حديثِ پاک کښې دي: 3 څيزونه په مسلمانانو ورونړو کښې محبّت زياتوي: **(1)**: چې کله ملاقات کوي نو سلام کول **(2)**: په مجلس کښې ځائے فراخه کول **(3)**: په ښه نوم سره رابلل- [(1)] ❁ د دوستئ او ورورولئ په آدابو کښې دا هم دي چې د هر يو سره صرف د الله پاک د رضا د پاره تعلق اوساتلے شي، د چا سره هم د ذاتي غرض د پاره تعلق اونه ساتلے شي- داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د شيخُ المشائخ حضرت ابو قاسِم گُرگاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه پوښتنه اوکړه چې: د صحبت شرط څه دے؟ اوئې فرمائيل: دا چې بنده خپله خوشحالي نه غواړي- د مسلمانانو ورونړو او دوستانو سره په تعلق کښې د ټولو نه غټ آفت دا دے چې هر يو خپله خوشحالي غواړي- [(2)]

❁ د مسلمانانو سره د ورورولئ په آدابو کښې دا هم دي چې انسان د ځان نه د مشرانو اَدَب اوکړي، د خپلو همزولو سره ښه سلوک اوکړي ، په ماشومانو باندې شفقت اوکړي، او مشران بوډاګان د پلار نيکه په ځائے، خپل همزولي د ورونړو په ځائے او ماشومان د اولاد په ځائے اوګڼړي ❁ د چا سره حَسَد اونکړي ❁ د چا سره په زړه کښې بغض او کينه (يعني پټه دښمني) اونه ساتي ❁ ټولو ته د نيکئ دعوت ورکوي ❁ په وړه وړه خبره نه خفه کيږي- [(3)]

| | |
|---|---|
| کاش! نیکی کی دعوت میں دوں جابجا | سُنّتیں عام کرتا رہوں جابجا[(4)] |

---

[1]...معجم الاوسط، جلد:6، صفحہ:163، حديث:8369۔
[2]...كشف المحجوب،مترجم،صفحہ:502بتغير۔
[3]...كشف المحجوب،مترجم،صفحہ:501-502بتغير۔
[4]... وسائل بخشش، صفحہ:502۔

## د میلمستیا آداب

داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د میلمستیا په آدابو کښې دي چې کله یو مسافر راشي نو انسان خوشحاله شي، د هغه احترام اوکړي، په عزّت او تعظیم سره هغه ته هر کلے اووائي- د الله پاک نبي، حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام به د خلقو ډیره میلمستیا کوله، یو ځل یو څو فرښتې په انساني شکل کښې د هغوئي خوا له راغلې، حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام هغوئي اونه پیژندلې، بیا ئې هم هغوئي ته هر کلے اووئیلو، هغوئي ئې کښینولې، فوراً ئې ډوډئ تیاره کړه، او میلمنو له ئې راوړله، راغلي میلمانه خو فرښتې وې او فرښتې خو خوراک څښاک نه کوي، چې کله فرښتو ډوډئ اونه خوړله، نو بیا هغوئي ته معلومه شوه چې دا فرښتې دي، الله پاک په قرآنِ مجید کښې دا واقعه څه داسې بیان کړې ده:

وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ اِبْرٰهِیْمَ بِالْبُشْرٰی قَالُوْا سَلٰمًا ؕ قَالَ سَلٰمٌ فَمَا لَبِثَ اَنْ جَآءَ بِعِجْلٍ حَنِیْذٍ ۝۶۹

(پاره:12،سورۂ هود:69)

**ترجمۂ کنزُ العرفان:** او بے شکه زمونږه فرښتې ابراهیم ته د زیرې ورکولو د پاره راغلې- هغوئي سلام اوکړو نو ابراهیم سلام واخستو- بیا ئې لږ سعت پس یو وریت کړے شوے سخے راوړو-

داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اوګورئ! حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام د میلمه نه دا پوښنه هم اونکړه چې د کوم ځائے نه راغلئ؟ چرته ځئ؟ د هغوئي نومونه څه دي؟ بس فوراً ئې په میلمستیا کښې مصروفه شولو- (1)

مونږ له هم پکار دي چې د میلمنو سره داسې رویه اختیار کړو، چې زمونږه خپلوان زمونږ کره میلمانه راشي، د هغوئي خو میلمستیا هسې هم کوو، که چرې څوک نا اشنا راشي نو چې د هغه په قدر کښې څه کوتاهي اونکړے شي-

د میلمستیا د پاره نور آداب بیانوي او داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که چرې میلمه تنهائي خوښوي نو کوربه دې هغه یواځې پریږدي ګنې بیا دې د هغه سره کښیني، د هغه سره دې خبرې اوکړي- (2)

## د میلمستیا یو اهم اَدَب

داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د میلمستیا یو اَدَب دا هم دے چې میلمه د خپل ښار د بزرګانو، نیکانو

[1]...کشف المحجوب،مترجم،صفحه:505بتغیر۔
[2]...کشف المحجوب،مترجم،صفحه:505بتغیر۔

خلقو سره د ملاقات د پاره بوتلے شي-[(1)]

الله اکبر! د دې اَدَب خو زما خیال نه دے چې چرې زمونږه په معاشره کښې خیال هم ساتلے شي، زمونږ کره خو چې میلمانه راشي نو پارکونو ته ئې د سیل د پاره بوځو، مختلفو د سیل سپاټو ځیونو، هوټلو ته ئې بوځو، چې د ښار د نیکانو خلقو، برزرګانو، عاشقانِ رسول علمائے کرامو چې مونږ ته پخپله هم پته وي کنه، مونږ د هغوئي سره رابطه ساتو، دا هم ډیره ګرانه خبره ده، د میلمه به د هغوئي سره څه ملاقات اوکړو؟ کاش! چې مونږ دین خوښوونکي مسلمانان جوړ شو- د دیني خبرو، دیني خلقو، د دین پوهه لرونکو معلومات هم اوساتو، د هغوئي سره رابطه هم اوساتو، پخپله هم د هغوئي په خدمت کښې حاضریږو او څومره به ښه وي! چې میلمه راشي نو هغه هم د زیارت کولو د پاره بوځو- الله پاک دې مونږ له توفیق راکړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د سفر کولو آداب

داتا حُضُور رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: بنده له پکار دي چې همیشه د الله پاک د رضا د پاره سفر اوکړي، د نفس د یو خواهش لاندې سفر اونکړي (مثلاً د تجارت وغیره د پاره که سفر کول وي نو د هغه سفر د پاره چې ښه ښه نیتونه اوکړے شي نو، اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! دغه سفر به هم د ثواب ذریعه جوړه شي)- ❀ د سفر په آدابو کښې دي چې لکه څنګه په ظاهره سفر اختیار کړے شوے دے، داسې په باطِن کښې هم مسافر جوړ شي (یعني په ظاهره کور کلے پریږدي نو د نفس خواهشونه هم پریږدي)-[(2)]

❀ په سفر کښې جائے نماز او د اودسه سامان د ځان سره اوساتي، داسې په سُنَّت باندې د عمل کولو په نیت سره ګمنځ، ناخُن کاټ، رانجه وغیره سامان هم د ځان سره کیږدي-[(3)]

❀ په هر مسلمان باندې لازم دي چې همیشه د سُنَّت حفاظت اوکړي، چې د چا خوا له لاړ شي نو د هغه احترام اوکړي، هغه ته سلام اوکړي، په کوربه باندې په یو حالت کښې هم اعتراض اونکړي، د خپل سفر سختئ بیان نکړي، د عِلم برلاسے اونه ښائي، که د سفر په وخت د جاهلانو او غیر مهذبه خلقو سره واسطه راشي نو د

[1]...کشف المحجوب،مترجم،صفحہ:506بتغیر۔
[2]...کشف المحجوب،مترجم،صفحہ:509بتغیر۔
[3]...کشف المحجوب،مترجم،صفحہ:510بتغیر۔

برداشت نه کار واخلي، د الله پاک د رضا د پاره د هغوئي په زياتي صبر اوکړي نو، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! ډير برکتونه به حاصل شي۔ [1]

| | |
|---|---|
| بنا دو صبر و رِضا کا پیکر | بنوں خوش اَخلاق ایسا سرور |
| رہے سدا نَرم ہی طبیعت | نبیِّ رَحمت شفیعِ اُمّت [2] |

## د خوراک څښاک آداب

داتا حُضُور رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي چې: د انسان د خوراک نه بغير کار نه کيږي، البته د خوراک په استعمال کښې د اَدَب شرط دا دے چې په خوراک څښاک کښې مبالغه اونکړي (يعني زيات خوراک اونکړي) چې څوک صرف د ګيډې ډَکَولو په غم کښې وي، د هغه قدر او قيمت هم دغه دے کوم چې د ګيډې نه ووځي۔ [3] د حضرت بايزيد بسطامي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه نه چا پوښتنه اوکړه چې: تاسو د وږي پاتې کيدو دومره تاکيد ولې کوئ؟ اوئې فرمائيل: ځکه چې که چرې فرعون وَږے پاتې وے نو هيڅکله به ئې د خدائيئ دعویٰ نه وه کړې، که چرې قارون وَږے پاتې وے نو سرکشي به ئې نه کوله۔ [4]

✿ د خوراک په آدابو کښې دا هم دي چې ځانله ئې اونه خوري، چې څه خوري نو نور دې هم په دې کښې شريک کړي ✿ په دسترخوان دې خاموشه نه کښيني (بلکه د موقعې په مناسبت سره دې ښه ښه خبرې کوي) ✿ د بِسمِ الله وئيلو سره دې خوراک شروع کړي ✿ د خوراک، اوبو يا لوښو وغيره په کيښودو او اوچتولو کښې دې د تهذيب خيال اوساتي، داسې انداز دې نه خپلوي چې خلق ئې خوښ نه کړي ✿ وړومبئ نمړئ دې د ترسکون خوراک نه اوکړي ✿ په دسترخوان باندې په ناستو خلقو دې قربانوي (يعني هغوئي له دې ښه او زيات څيز ورکوي) ✿ په ښي لاس دې خوري ✿ د نورو نمړئ دې نه تلي (يعني بل ګس ته دې نه ګوري چې وړوکې نمړئ کوي که غټه) ✿ وړې وړې نمړئ دې کوي او ښه دې ئې چقوي (ميده کوي) ✿ په خوراک کښې دې تادي نه کوي چې د دې نه بد هضمي پيدا کيږي او دا کار د سُنَّت خلاف هم دے ✿ د خوراک نه چې کله اوزګار شي نو د الله پاک شکر دې ادا کړي۔ [5]

[1]...کشف المحجوب،مترجم،صفحہ:511-512بتغير۔
[2]... وسائل بخشش، صفحہ:208۔
[3]...کشف المحجوب،مترجم،صفحہ:512بتغير۔
[4]...کشف المحجوب،مترجم،صفحہ:513بتغير۔
[5]...کشف المحجوب،مترجم،صفحہ:514بتغير۔

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اوکتل! چې داتا حُضُور رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ څومره ښکلي ښکلي آداب ښودلي دي، دلته دې يوې خبرې ته پام اوکړئ! د داتا حُضُور رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ کتاب دے: کَشفُ المَحجُوب- هغوئي دا کتاب د تَصَوُّف د باريکۍ ښودلو، د زړه نه د غفلت د پردو لرې کولو، د زړه نوراني جوړولو او د الله پاک د معرفت حاصلولو د طريقې ښودلو د پاره ليکلے دے او په دې کتاب کښې هغوئي دا د ژوند آداب بيان کړي دي- د دې نه دا معلوميږي چې دا آداب څومره اهم دي، په دې باندې د عمل کولو په برکت سره زړه صفا کيږي، باطِن ښکلے کيږي، زړه ته د ايمان نور کوزوي او رڼړا خپروي- مونږ له پکار دي چې د دې آدابو په اهميت ځان پوهه کړو، د رَبِّ کائنات د پاک دربار هم ښه اَدَب اوکړو، د خپل ذات د آدابو هم خيال اوساتو، د مسلمانانو اَدَب اوکړو، د دوستانو اَدَب اوکړو، د خوراک څښاک، ګرځيدو وغيره آدابو هم خيال اوساتو-

باادب با نصیب | بے ادب بے نصیب

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: چوک دَرس

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي د داسې خوږو خوږو خبرو، سُنَتونو او آدابو ويونکے، ښودونکے او په ټوله دنيا کښې د نيکۍ دعوت عام کولو والا تحريک دے، تاسو هم د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمن اونيسئ! د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه واخلئ! اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! د دين او دنيا بے شميره فائدې به مو نصيب شي- د ذيلې حلقې په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار دے: چوک درس-

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ! د دعوتِ اسلامي سره تعلق لرونکي عاشقانِ رسول په جُماتونو کښې خو دَرس ورکوي، د دې سره سره په چوک، بازار، سکول او کالج وغيره کښې هم دَرس ورکوي، د نيکۍ دعوت عام کوي او د سُنَّتو پيغام عام کوي- راځئ! د چوک دَرس يو مدني سپرلے اورو،

## د ګناهونو نه ئې توبه نصيب شوه

د لانډهي (کراچۍ پاکستان) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې: زمونږه په علاقه کښې د يو ويډيو سنټر مخې ته د دعوتِ اسلامي سره تعلق لرونکي اسلامي ورور به د يخنۍ او ګرمۍ پروا کولو بغير ښه په حوصلې سره چوک دَرس ورکولو، هغه اسلامي ورور به د ويډيو سنټر مالِک ته هم درس کښې د برخې اخستو

دعوت ورکولو خو هغه به هره ورځ د مصروفیاتو وئیلو سره معذرت کولو، آخِر یوه ورځ د ویډیو سنټر مالِک هم په دَرس کښې شرکت اوکړو، چې کله د دعوتِ اسلامي مبلغ دَرس شروع کړو نو د الله نه د ویرې او د عشقِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د ډکو لفظونو اثر د غشو په شان د هغه په سینه اولګیدو، د غفلت پردې لرې شوې او د چوک دَرس په برکت سره د ویډیو سنټر په مالِک باندې د آخِرت فِکر غالب شو- د دَرس نه پس اسلامي ورور هغه ته د دعوتِ اسلامي په هفته واره اجتماع کښې د شرکت کولو بلنه ورکړه، هم دغسې هغه په هفته واره اجتماع کښې شرکت شروع کړو، په مزه مزه په هغه کښې بدلون راغلے، آخر د ویډیو سنټر مالِک د ټولو ګناهونو نه توبه کړه، د ګناهونو نه ډک کاروبار یعني ویډیو سنټر ئې هم بند کړو- دغه شان اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د ګناهونو په ډنډه کښې انختے مسلمان د چوک دَرس په برکت سره د نیکې لارې مسافر جوړ شو-[1]

| اسی ماحول نے ادنیٰ سے اعلیٰ کر دیا<br>دیکھو | اندھیرا ہی اندھیرا تھا اُجالا کر دیا<br>دیکھو |
|---|---|

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دارُ الاِفتَاء اهلِسُنَّت ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي د عِلمِ دین فیضان په عام کولو کښې مصروفه دے- د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې ***Darul Ifta Ahlesunnat*** (دارُ الافتاء اهلِسُنَّت) دے-

په دې ایپلي کیشن کښې په مختلفو موضوعاتو باندې فتوې په آډیو، ویډیو ***(Audio & Video)*** او ټیکسټ (لیکلي) شکل کښې موجودې دي- تاسو هم دا موبائل ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ! بچپله ترې هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! بیان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضیلت او د ژوند د ځینو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي:

[1]...میں نے ویڈیو سینٹر کیوں بند کیا؟، صفحہ:5۔

مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي- [(1)]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مُعَانَقه کول سُنَّتِ مصطفٰے دے

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک**: د چا چې ورور وي هغه دې د خپل ورور سره مُعَانَقه اوکړي- [(2)]

**اے عاشقانِ رَسُول!** غاړې ورکولو (ګړې بړې کولو) ته مُعَانَقه وئیلے شي او مُعَانَقه سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے- ❁ په **مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيح** کښې دي چې: د خوشحالئ په موقع چا ته ورغاړه وتل (یعني د چا سره ګړه بَړه) کول سُنَّت عمل دے [(3)] خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به څو څو ځله په صحابه کرامو باندې شفقت کولو او د هغوئي سره به ئې مُعَانَقه (ګړه بړه) کوله- مثلاً ❁ د خیبر په موقع باندې خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت جعفر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خپلې سینې مبارکې ته راجُخت کړو او په تندي باندې ئې ښکل هم کړو- [(4)] ❁ یو ځل هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت ابو ذَر غفاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه راوبللو، کله چې هغوئي حاضر شول نو د شفقت کولو سره ئې هغوئي سینې ته راجُخت کړل- [(5)]

**اے عاشقانِ رَسُول!** مُعَانَقه یعني غاړه ورکول سُنَّت عمل دے، البته اَمرَد یعني وړو نابالغه ماشومانو له د غاړې ورکولو نه ځان ساتل بهتره خبره ده چې په دې کښې په ګناهونو کښې د اخته کیدو ډېره اندېښنه ده- الله پاک دې مونږه په سُنَّتو باندې عمل کوونکي جوړ کړي-

اٰمِیْن بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1...مشکوٰة،کتابُ:الْایمان،بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحہ:55، حدیث:175-
2...کَنزُ الْعُمَال، کتاب: الفضائل، جلد:7، جز:13، صفحہ:26، حدیث:36235-
3...مرآة المناجیح، جلد:6، صفحہ:359-
4...ابو داؤد، کتاب:الادب، باب: قبلة ما بین العینین،صفحہ:813، حدیث:5220-
5...ابو داؤد، کتاب:الادب، باب: قبلة ما بین العینین،صفحہ:812، حدیث:5214خلاصةً-

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبۃ المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 مخونو رساله **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو یوه ذریعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

سادگی چاہئے، عاجزی چاہئے
لینے یہ نعمتیں، قافلے میں چلو
عاشقانِ رسول، آئے سُنّت کے پھول
دینے لینے چلیں، قافلے میں چلو[1]

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]...وسائل بخشش، صفحہ:671۔

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ
الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

### ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

### ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون،ص۱۵۱ملخصًا
2... القول البدیع،الباب الثانی، ص۲۷۷

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ
صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکئ لیکي.[4] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات،الصلاۃ الثانیۃ والخمسون،ص۱۴۹
2... القول البدیع،الباب الاول،ص۱۲۵
3... الترغیب والترہیب،کتاب الذکر و الدعاء،۳۲۹/۲،حدیث:۳۰
4... مجمع الزوائد،کتاب الادعیۃ،باب فی کیفیۃ الصلاۃ...الخ،۲۵۴/۱۰،حدیث:۱۷۳۰۵

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْكَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

1... تاریخ ابنِ عساکر،۱۹/۱۵۵،حدیث:۴۴۱۵